Folkhälsomyndigheten
PUBLIC HEALTH AGENCY OF SWEDEN

د ماشوم د سرپرست لپاره د واکسیناسیون په هکله معلومات

DET HÄR ÄR EN ÖVERSÄTTNING TILL PASHTO AV FAKTABLADET DET SVENSKA VACCINATIONSPROGRAMMET FÖR VISSA BARN.

# د ځنی ماشومانو لپاره توصیه شوی واکسیناسیون

په سویډن کی ټول ماشومان د نهو جدی ناروغیو په مقابل کی د وورېیا واکسیناسیون حق لری )»د ماشومانو لپاره د سویډن د واکسیناسیون پروګرام» معلوماتی پاڼی وګوره(. ټولونجونو ته د هومانت پاپیلوم ویروس لپاره د واکسین کولو وړاندیز هم کیږی، )»د نجونو لپاره د اچ.پی.وی. په مقابل کی د واکسین معلوماتی پاڼی“ وګوره(. ځنی ماشومانو ته د هیپاتیت بی یا تور زیړیhepatit B ، نری رنځ، انفلونزا او پنیوموکوک عفونت په مقابل کی د واکسین وړاندیز هم کیږی.

## هیپاتیت بی یا تور زیړی

هیپاتیت بی یو داسی ویروس دی چه د ینی د التهاب سبب کیږی او د وینی او د بدن د نورو مایعاتو په وسیله خپریږی. په ځنی کسانو کی دا ناروغی هیڅ نه معلومیږی مګر ځنی نور کسان کیدای شی د څو میاشتو په بهیر کی ډیر ناروغه وی. د دوی زیاته برخه بیرته جوړیږی، مګر د ځنی کسانو په بدن کی دا ویروس پاتی کیږی او ډیره موده وروسته کولای شی د ینی د ژوبلیدو یا د ینی د سرطان سبب شی. که سړی ته ناروغی په ماشوم توب کی سرایت وکړی نو بیا به خطر نورهم زیات وی.

### څوک باید واکسین شي؟

واکسین هغه ماشومانو ته توصیه کیږی چه د سرایت د زیات خطر سره مخامخ وی. تر ټولو د مخه هغه کسانو ته چه د کورنی کوم غړی یی هیپاتیت بی ولری یا د هغوی پلار او مور د یوه داسی هیواد نه را غلی وی چه هیپاتیت بی د سویډن نه هلته زیات عادی وی. د ولایتی شوراګانو زیاته برخه دا پریکړه کړی چه د هیپاتیت بی په مقابل کی د واکسین وړاندیزه ټولو ماشومانو ته وکړی.

### د واکسین کولو نه کوم معافیت منځ ته راځی؟

دغه واکسین ډیر موثر دی او تقریبا ټول هغه ماشومان چه واکسین شی یوه ښه معافیت ته پرمختګ ورکوی. دغه معافیت امکان لری د ټول ژوند لپاره کافی وی.

### واکسین کله کیږی؟

دغه واکسین په عادی توه ګه دری ځلی کیږی، یا د شیدو خوړلو په عمر کی )په ۳ میاشتینی، ۵ میاشتینی او ۱۲ میاشتینی عمر کی( د نورو واکسینونو سره یو ځای، یا د یوه انفرادی تقسیم اوقات په اساس.

### کوم جانبی عوارض منځ ته راځی؟

د واکسین شوو ماشومانو زیاتی برخی ته کوم جانبی عوارض نه پیدا کیږی، یا دا چه یوازی کوم خفیف جانبی عوارض ورته پیدا کیږی. په عادی توګه احتمالی فرعی جانبی عوارض د څو روځو په بهیر کی له منځه ځی. د لاندی جانبی عوارضو راپور ورکړ شوی دی:

**عادی** )د ۱۰۰ واکسین شوو کسانوڅخه د یوه نه کم:( سور کیدل، پړسیدل او د پیچکاری د ستنی په ځای کی درد.

**لږ لیدل شوی** )له ۱۰۰۰ واکسین شوو کسانو څخه د ۱ نه لږ( تبه، خاربنت، د سر درد، استفراق، اسهال، په پوستکی باندی بخار، د حساسیت عکس العمل.

## توبرکلوز یا نری رنځ

توبرکلوز یا نری رنځ یو داسی عفونت دی چه د یوی باکتریا نه پیدا کیږی او کله چه سړی وټوخیږی د هوا له لاری سرایت کوی. په زیاتو حالاتو کی دا په سږی یرغل کوی مګر د بدن نور غړی هم کیدای شی ژوبل شی. په زیاتو حالاتو کی دا ناروغی ورو ورو پرمختګ کوی، د زیاتی مودی ټوخی، د وزن کمیدلو او تبی سره، مګر کیدای شی دا په بدن کی د ډیرو کلنو په بهیر کی پروت وی تر څو بیا وروسته فعال شی. په ویده ډول توبرکلوز ساری نه دی.

### څوک باید واکسین شي؟

دا واکسین د هغه ماشومانو لپاره توصیه کیږی چه د دوی پلار او مور د یوه داسی هیواد نه راغلی وی چه هلته توبرکلوز تر سویډن نه عادی وی.

### د واکسین کولو نه کوم معافیت منځ ته راځی؟

ماشومان د دغه واکسین نه یو ښه معافیت د توبرکلوز د سختو ډولونو په مقابل کی په لاس راوړی. د کلنو په تیرودلو سره د معافیت تاثیر کمیږی.

### دغه واکسین کله کیږی؟

دا واکسین په عادی توګه د شپږ میاشتنی عمر نه په دی خوا یو ځل کیږی، مګر که چیری د سرایت خطر لوی وی کیدای شی د دی نه د مخه وشی.

### دواکسین نه وروسته څه پیښیږی؟

دا واکسین په پوستکی کی د یوه کوچنی عفونت سبب ګرزی، او له دوو تر څلورو اونیو وروسته له واکسیناسیون نه د پیچکاری د ستنی په ځای کی لږ کلکوالی منځ ته راځی. دا کلکوالی غټیږی او سور کیږی، څه موده وروسته دا په زخم بدلیږی او د هغه

نه کېدای شي ککړې اوبه راشي. سړی باید په دغه زخم کوم کار ونلري او په عادي توګه له څو اونیو نه وروسته دا په خپله جوړېږي. تر څو چه دغه زخم واز وي باید سړی په حوض کې لامبو ونه وهی. د ماشومانو یوې برخې ته هیڅکله کوم زخم نه پیدا کېږي بلکه یوازې یو داسې کلکتوب چه له یوې یا څو میاشتو نه وروسته ورکېږي.

## کوم جانبي عوارض منځ ته راځي؟

دلاندې جانبي عوارضو راپوروړکړل شوی:

لږ لیدل شوی )له ۰۰۰۱ واکسین شوو کسانو څخه د ۱ نه لږ: ( یوغیرنورمال لوی زخم چه جوړېدل یې ډیر وخت نیسی، تبه، د سر درد، د حساسیت عکس العمل.

## والګی یا زکام

والګی یا زکام یو داسې عفونت دی چه په تنفسی کانالو کې د ویروس په وسیله پیدا کېږي. کله چه یو ناروغ وټوخیږي یا پرچل وکړي نو دا د هوا له لارې نه خپرېږي. په هر ژمي کې والګي منځ ته راځي او د دوو نه تر پنځلس فیصده خلک په دغه ناروغی اخته کېږي.
په عادي توګه والګی پخپله پای ته رسیږي، مګر کله ناکله دا د سږی د التهاب سبب ګرځي.

## څوک باید واکسین شي؟

هغه ماشومانو ته چه د طبی لحاظه د خطر په ګروپ کې وی، توصیه کېږي چه د موسمي والګي په مقابل کې ځان واکسین کړي. د والګي واکسین د یوه داسې ویروس نه جوړېږي چه د چرګې په هګۍ کې کرل شوی وی، نو هغه څوک چه د هګیو سره ډیر حساسیت لرې لمړی باید د خپل ډاکټر سره خبرې وکړي.

## معافیت تر کومه وخته پورې شته وی؟

څرنګه چه د والګي ویروس تل بدلیږي نو سړی باید د هر موسم نه د مخه نوی واکسین جوړ کړي چه د همغه ویروس په مقابل کې چه حاد وی، تاثیر وکړي. معافیت د یوه کال په بهیر کې کمیږي او سړی باید هر کال واکسین شی.

## دغه واکسین کله کېږي؟

دا واکسین په عادي توګه د شیږ میاشتنی عمر نه په دې خوا کېږي. د ماشوم د عمر په نظر نیولو سره واکسین یو یا دوه ځلی کېږي. که دا دوه ځلی کېږي نو باید د لمړی او دوهم ځل په مابین کی څلور اونی تیرې شي.

## کوم جانبي عوارض منځ ته راځي؟

د والګي په مقابل کې واکسین شوو ماشومانو زیاتي برخې ته کوم جانبي عوارض نه پیدا کېږي، یا دا چه یوازې کوم خفیف جانبي عوارض ورته پیدا کېږي. په عادي توګه احتمالی فرعی جانبي عوارض د څو روځو په بهیر کې له منځه ځي. د لاندې جانبي عوارضو راپور ورکړ شوی دی:

**عادی** )د ۱۰۰ واکسین شوو کسانو نه د ۱ نه زیات لیدل شوی دی( سور کیدل، پړسیدل، او د پیچکاری د ستنی په ځای کی درد، تبه

**لږ لیدل شوی** )د ۱۰۰۰ واکسین شوو کسانو نه له ۱ نه کم( د حساسیت عکس العمل

## پنوموکوک

پنوموکوک داسې باکتریاوی دی چه د سطحی عفونت سبب ګرزی لکه د غوږو او د پوزې د سوریو التهاب، مګر دا باکتریاوی کولای شی کله کله د جدی او یا حتی د ژوند لپاره د خطر ناروغیو سبب شي، لکه د سږو التهاب، د وینی مسمومیت او د مغز د غشا التهاب.
همدا راز د خړپړتیا خطر هم موجود دی، د مثال په توګه د مغز ډول ډول ژوبلی.

## څوک باید واکسین شي؟

د پنوموکوک په مقابل کی د نوی زیږیدلو ماشومانو عمومي واکسیناسیون د ۲۰۰۹ کال د جنوری د ۱ نیټی نه پیل شو. یعنی ټولو نوی زیږیدلی ماشومانو ته د د دوی د ژوند په لمړی کال کی د ووړیا واکسین وړاندیز کیږی.

هم واکسین شوو او هم نه واکسین شوو ماومانو ته چهد پنوموکوک د ناروغی د اخته کیدلو د خطر سره مخامخ وی، کیدای شی بیله دی چه عمر ته پاملرنه وشی نور واکسین ته هم اړتیا ولری. د مثال په توګه هغه ماشومان چه د بدن ضعیفه دفاعی قوه لری یا داسی مزمنی ناروغی لری چه د ناروغیدو خطر زیاتوی.

## د واکسین کولو نه کوم معافیت منځ ته راځي؟

د دغه واکسین نه بدن د هغه جدی پنوموکوک ناروغی په مقابل کی معافیت تر لاسه کوی چه په واکسین کی د موجودو پنوموکوک ډولو نه منځ ته راځي.

## دغه واکسین کله کېږي؟

هغه ماشومان چه د خطر په ګروپ کی وی د یوه انفرادی تقسیم اوقات په اساس واکسین کیږی.

## کوم جانبي عوارض منځ ته راځي؟

د پنوموکوک په مقابل کی واکسین شوو ماشومانو زیاتی برخی ته کوم جانبی عوارض نه پیدا کیږی، یا دا چه یوازی کوم خفیف جانبی عوارض ورته پیدا کیږی. په عادی توګه احتمالی فرعی جانبی عوارض د څو روځو په بهیر کی له منځه ځی. د لاندی جانبی عوارضو راپور ورکړ شوی دی:

**عادی** )د ۱۰۰ واکسین شوو کسانو نه د ۱ نه زیات لیدل شوی دی سور کیدل، پړسیدل او درد د پیچکاری د ستنی په ځای کی، تبه، اسهال، استفراق.

**ډیر لږ لیدل شوی** )د ۱۰۰۰ واکسین شوو کسانو نه د ۱ نه کم( د حساسیت عاجل عکس العمل، خاربنت، دتبی تشنج، بخار، رنګ الوتل، سستوالی.

### دی ته پاملرنه وکړه!

**د واکسین کولو نه د مخه:** ووایه چه آیا ستا ماشوم ناروغه دی، یا کومه ناروغی یا حساسیت لری، یا پخوا د کوم واکسین نه وروسته ده کوم عکس العمل ښکاره کړی وه یا نه.

**د واکسین کولو نه وروسته**: که چیری له واکسین نه وروسته ستا ماشوم ښه نه وه، ته باید د ماشومانو د کلینیک، په ښوونځی کی د زده کوونکی د روغتیا ځانګی یا روغتیایی موسسو سره تماس ونیسی. د روغتیایی چارو کارکوونکی باید د ټولو هغه عکس العملو راپور ورکړی چه د واکسیناسیون سره کومه اړیکه لری، بیله دی څخه چه آیا د دی علت واکسین وه یا نه وه.

د خپل ماشوم د واکسیناسیون په هکله ته باید ښه خبر اوسی، دا کار کولای شی د ماشومانو د کلینیک د کارت یا کتاب یا په کومه بله توګه وکړی.

FOLKHÄLSOMYNDIGHETEN, JULI 2017 ISBN PRINT 978-91-7603-710-2 ARTIKELNUMMER: 16084 GRAFISK PRODUKTION: AB TYPOFORM

Folkhälsomyndigheten
PUBLIC HEALTH AGENCY OF SWEDEN

**Solna** Nobels väg 18, 171 82 Solna **Östersund** Forskarens väg 3, SE-831 40 Östersund.
www.folkhalsomyndigheten.se